په سياسي چارو کي د ملګرو ملتونو د عمومي منشي مرستيال ميروسلاو جينکا د کابل نه ليدنه وکړه ترڅو افغانستان ته د ملګرو ملتونو په ژمنو ټينګار وکړي

کابل، د ۲۰۱۷ کال جنورۍ ۲۷ – په سياسي چارو کي د ملګرو ملتونو د عمومي منشي مرستيال ښاغلی ميروسلاو جينکا افغانستان ته په خپل څلور ورځني سفر کي چې د جمعې په ورځ پاي ته ورسيد، وويل ملګري ملتونه افغانستان او خلګو ته يې په کلکه ژمن دي.

ښاغلي جينکا له ولسمشر غني، اجرائيه رييس عبدالله عبدالله، د بهرنيو چارو وزير صلاح الدين رباني، د ټاکنو نوي کميشنران، دولتي چارواکي، د ښځو رهبرانو او ديپلوماتيکو ټولنو سره ليدنه درلوده.

په کابل کي د خپلو ليدونو په ترڅ کي، ښاغلي ميروسلاو جينکا په افغانستان کي د پيچلي امنيتي وضعيت او د هغه پراخ سيمه ييزو ابعادو باندې خبري وکړي. هغه د سوله ييزو مذاکراتو په اړتيا ټينګار وکړ تر څو تاوتريخوالي له سياسي بهير له لارې حل و فصل شي.

هغه د ملګرو ملتونو د سرمنشي انتونيو ګوترس په وينا چې ۲۰۱۷ کال د سولې کال جوړ کړي او د ديپلوماسي نه په پوره توګه ګټه واخلي، بيا يادونه و کړه.

ښاغلي ميروسلاو جينکا د دولت د يو والي او د اصلاحاتو په ژمنو بحث وکړ چې له امله يې د امنيت او پرمختګ په برخو کي د نړيوالو همکارانو اوږدمهاله مرستې را جلب کړي. دغه مرستې افغانستان ته د ثبات، حساب ورکوني او په ځان بسيايني فرصت برابروي.

د ټاکنو د موضوع په برخه کي، ښاغلي ميروسلاو جينکا د ټاکنيزو ادارو بدلون چې د ټاکنيزو اصلاحاتو او د ټاکنو لپاره چمتو والي ته ډېر اړين ګڼل کيږي، هرکلي وکړ. هغه وويل ملګري ملتونه تيار دي تر څو د دولت په غوښتنه د ټاکنو په ترسره کولو کي مرسته وکړي.

په افغانستان کي د سولې په اړه، د ملګرو ملتونو د عمومي منشي مرستيال جينکا وويل، ملګري ملتونه تيار دي ترڅو د افغانستان په رهبرۍ او مالکيت د سولې د بهير ملاتړ او مرسته وکړي. هغه د دوامداره سولې او ثبات لپاره په سيمه ييزه همکارۍ ټينګار وکړ. جينکا زياته کړه، "ملګري ملتونه د يوه سوله ييز او باثباته افغانستان په هيله ده او دولت سره د بيوزلي په راکمولو او د ښځو د زيان منونکي حالت کي د ښه والي د راوستلو په برخه کي ژمن دي.

* * *

د ملګرو ملتونو د مرستندويه پلاوي (يوناما) يو سياسي ماموريت دي چې د ملګرو ملتونو د سياسي څانګې تر څارنې لاندې دنده ترسره کوي.

هیئت معاونت سازمان ملل متحد در افغانستان (یوناما) که به عنوان یک ماموریت سیاسی در کنار دیگر فعالیت های عمده اش، مساعی جمیله را تامین کند، ماموریت دارد تا از حکومت و مردم افغانستان حمایت کند. "مساعی جمیله" در واقع گام های دیپلوماتیکی اند که سازمان ملل متحد با هدف تامین اصول استقلال، بی طرفی و یکپارچگی در عرصه عمومی و فعالیت های خصوصی و برای جلوگیری از گسترش، تشدید و افزایش منازعات بین المللی بر می دارد. یوناما در بخش پروسه صلح و آشتی ملی، بررسی و بهبود وضعیت حقوق بشر و همچنین حفاظت از غیر نظامیان در منازعات مسلحانه، ترویج حکومتداری خوب و تشویق همکاری های منطقوی همکاری می کند. همچنین این ماموریت در عرصه کمک های منسجم بین المللی همکاری می نماید